

The Regional Women's Enterprise Unit

RWEU

Backing Business in the West Midlands



## Regional Women's Enterprise Unit ته ښځۀ راغلاست

د لوېديز ميډلېنډ د ښځو سيمه ايزې پروژې يوکې (West Midlands Regional Women's Enterprise Unit (RWEU)) ته ښۀ راغلاست – کوم چې د ميلادي کال 2006 د مئي پۀ مياشت کښې جوړ کړی شوی. د RWEU مقصد دا دی چې پۀ سيمه کښې د ښځينه پروژه لړونکو شمېره سپوا کړی شي.

مونږ غواړو چې تاسو سره د تاسو د هغو خوبونو رېښتيا کولو کښې مرسته وکړو کوم چې تاسو غواړئ خپل ځاني کاروبار پېل کړئ، يا خپل هغه هيلې بشپړې کړئ چې خپل شته کاروبار ته وده ورکړئ او پر مخ ئې بوزئ.

تاسو د ښځو د کاروبار د پرمختيا اژانس ((Women's Business Development Agency (WBDA)) يا ښځې پۀ کليوال کاروبار کښې ((Women in Rural Enterprise (WiRE)) کښې د ماهرينو لۀ خوا ګڼ شمېر وړيا وړانديزونه، ملاتړ او روزنې تر لاسه کولی شئ، کوم چې د نوي طرز RWEU پۀ پرمختيا کښې ونډه وال دي.

دا خدمت پر تجربې، مالي يا د زده کړو وروستۍ وضع، عمر، توکم، توانتوب يا بې وزلي پورې هېڅ اړه نۀ لري – تر څو چې تاسو غواړئ خپل ځاني کاروبار پېل کړئ او ورله وده ور کړئ... مونږ د تاسو مرستې لۀ پاره چمتو يو!

د RWEU سره پۀ ونډه وال کې بانديې د پرمختيا سيمه ايز اژانس (د لوېديز ميډلېنډ ګټې (Advantage West Midlands)، د ډيټيائي وړوکي کاروبار خدمت (Dti's Small Business Service)) او د اروپائي ټولنيزې بسپنې (European Social Fund) لۀ اړخه بسپنه (مالي مرسته) ورکولی شي.

## مونږ څۀ وړاندې کوو

آيا تاسو يوه ښځه ياست او د خپل ځاني کاروبار پېل کولو پۀ اړه فکر کوئ، خو نۀ پوهېږئ لۀ چېرته نه پېل کړئ؟

کېدی شي تاسو لۀ وړاندې نه خپل ځاني کاروبار چلوئ او داسې مرستې ته اړتيا لرئ چې خپل کاروبار نور پر مخ بوتللو جوګه شئ، يا کېدی شي تاسو د کار کوونکو د استخدام کولو او د هغوی د انتظام کولو پۀ لړ کښې وړانديز ته اړتيا لرئ؟

که د تاسو څۀ هم کاروباري اړتياوې وي مونږ هغه ښځو ته ، څوک چې د خپل ځاني کاروبار پېل کولو پۀ اړه فکر کوي يا ئې لۀ وړاندې نه پېل کړی دی، ګڼ ډېر وړيا وړانديزونه ورکوو ، پۀ کوم کښې چې دغه لاندېني ورګډ دي:

- زړۀ ورتيا ور کښې پېدا کول او د کاروباري فکرونو پروګرامونه جوړول
- د کاروباري هنرونو پۀ اړه روزنه / دا زده کول چې خپل کاروباري پلان به څنګه جوړوئ
- د کاروبار د پېل کولو نه وړاندې او د کاروبار د پېل کولو بشپړولو پورې ، يو پۀ يو کاروباري سلاکاري ورکول
- د شته کاروبارونو لۀ پاره يو پۀ يو کاروباري مشورې ورکول
- د هغو ښځو لۀ پاره د ملاتړ پروګرامونه څوک چې پۀ کاروبار کښې د لوړو ودو تر لاسه کولو توان لري
- د ښځو کاروباري تړاؤنو ټولګيو ته ور رسېدنه
- متاثر کوونکي رول ماډلونه

Pushto



## مونږ یو 12 – ورځنی د کاروبار پېل کوونهٔ پروګرام هم لرو (د هغو ښځو لهٔ پاره چې د کډوال بشپړ دریځ، انساني بنسټ باندې ژغورنه او یاهم اختیاري اجازه لري)

- د ژوند داسې هنرونو ته وده ورکول چې ورسره زړهٔ ورتیا ، خپلې وینا ځرګندوونه او اثر پزیري زیاتوي
- پهٔ ژوند او کار کښې د تاسو د مرستې لهٔ پاره د تاسو د مفاهمې د هنرونه ښهٔ کول
- دا زده کول چې د خپل کامیاب کاروبار لهٔ پاره څه ډول فکرونه جوړ کړی شئ
- دا زده کول چې خپل کاروباري پلان به څنګه جوړوئ
- د ژوند او د کاروبار لهٔ پاره خپل د انګلیسي ژبې هنرونه ښهٔ کول
- د ماشومانو د پاملرنې خرڅونو او د سفر خرڅونو لهٔ پاره مالي مرسته شته
- *پهٔ دې ځانګړې پروګرام کښې ځان لهٔ پاره ځای نیولو لهٔ پاره دې شمېرې باندې ټېلیفون وکړئ 02476 236 111*

### مونږ سره اړیکې ونیسئ

د کاروبار پهٔ اړه پلان جوړونې یا د کاروبار د پرمختیا د بهیر چې تاسو پهٔ کوم هم پوړ کښې وئ، مونږ دلته تاسو لهٔ پاره یو چې تاسو سره د خپل کاروباري فکرونو او خواهشاتو رښتیا کولو کښې مرسته وکړو ، نو هېله کیږي چې لاندې پهٔ تفصیل سره ورکړې شوي زمونږ کوم یو سیمه ایز دفتر ته ټېلیفون وکړئ (دوه شنبې نه تر جمعې پورې سحر 9:00 بجو نه تر ماښام 17:30 بجو پورې).

- که تاسو پهٔ ښاري سیمه کښې یاست (ښارګوټی یا ښار) نو لطفاً پهٔ دې شمېرې باندې ټېلیفون وکړئ (Women's Business Development Agency) 02476 236 111
- که تاسو پهٔ کلیواله سیمه کښې یاست (د مارکېټ ښارګوټی یا کلی) نو لطفاً پهٔ دې شمېرې باندې ټېلیفون وکړئ (Women in Rural Enterprise) 01952 815 319

که څهٔ ډول شک یا اندېښنه لرئ نو لطفاً پهٔ دې کښې کوم یوې شمېرې ته هم ټېلیفون وکړئ او مونږ به پهٔ باور سره تاسو سره مرسته وکړو. تاسو پهٔ دې پته باندې د انټرنیټ د لارې هم مونږ ته راتلی شئ www.rweu.co.uk

### لطفاً دا یاد وساتئ

که تاسو غواړئ چې پهٔ برتانیه کښې یو کامیاب کاروبار پېل کړئ او ورله وده ور کړئ نو ستاسو لهٔ پاره به دانګلیسي ژبه پهٔ ښهٔ ډول سره زده کول ضروري وي.

د ښځود سیمه ایزې پروژې یوکی (Regional Women's Enterprise Unit) ټول خدمتونه او د زده کړې مواد پهٔ انګلیسي ژبه کښې وړاندې کېږي، تاسو لهٔ پاره به لږ نه لږ د ننوتلو لهٔ پاره د ESOL د ننوتنې دریمې درجې (ESOL Entry Level 3) ته اړتیا وي.

### مونږ ته بسپنه ورکوونکي

RWEU ته دغه ټول بسپنه ورکوي:

Advantage West Midlands
The regional leader for developing economic prosperity

EUROPEAN UNION
European Social Fund

small business service